درویش وردگ

۳۰ مارچ ۲۰۱۵

# اسلامی خلافت، داعش او منځنی آسیا

دلومړی ځل لپاره په ۱۹۸۱کال کی په لندن کی د یوه داسی اسلام غورځنګ(نهضت) موسسه کنګره جوړه شوه چی داسلامی خلافت غوښتونکی و. داډله دنورو سلفی نظره ډلګیو لکه اخوان المسلمین اووهابیزم چی یوازی په اسلامی انترناسیونالیزم پسی دی؟ یووګام وړاندی ځی اوکله چی دملکی دامارتونو خوبونه په سیند لاهو شول نوداسلامی خلافت یا دټول اسلامی امت یوحکومت جوړولونخسه یی رامنځته کړه.

په عقیدتی لحاظ دوی دواړه ګروپه(امارتی اوخلافتی) سره یودی: یعنی داسلام دهغه تعبیرپیروان دی چی ډیرسخت اودغیرمسلمینو لپاره یکی هیڅ ځای نشته، اوداسلامی اخلاقواورواياتو اوبالاخره داربعه مذاهبود مخالفت دی اودوی مشرک اوبدعت کار بولی؟ اهل تشیع خودسره نه منی اوپرته له فتوی یی وژنی اوکه چیری ددوی دمشرابن تیمیه کتابونه وګوری نوددوی کرکه اونفرت به له اهل تشییع سره درته ښرګنده شی.

دابن تیمیه یوکتاب چی په کابل کی هم دوهابیانولخوا دمانیفست په توګه لاس په لاس کیږی اود«منهاج السنة» په نامه چی دشپږاووسوو پانوپه شواخوا پنډوالی لری که وکتل شی نو، په ټول کتاب کی یی اهل تشییع ته درافضی لفظ استعمال کړی، اوددوی ټول نظریات یی دخودبافته احادیثوپه پیروی رد کړی اودوی یی داسلام له دایری ایستلی، اوپه مقابل کی یی دانسان دپرورش اوتربیت لپاره یوه خبره هم یکی نده لیکلی. همدارازکه دګلبدین په اصطلاح تفسیر وګوری؟ اویا هم انجیل دقرآن په رڼاکی؟ اوداسی نورټول هغه نظریات دی چی نن سبا زمونږاولادونو ته په ښوونځیو اودلوړوزده کړوپه موسساتوکی تدریس کیږی اوزمونږاولادونو دادیانو جګړی ته چمتوکړی، کومه چی استعماری –اقتصادی جګړی ته یواځی یودتیرایستلوپوښښ دی.

دناټوترچترلاندی شیخ الحدیثان اونورددیوبند اوالازهرساخت ملایان، له یوی خوا له طالب اوداعش څخه په ویره کی دی،له دوی سرټکوی اوله بلی خوا دداعشیانو فلسفه تبلیغ اوتدریس کوی، اوکه یوازی دوی ته دهمدی نویو نوکرانو لخوا یوه شنه وړانګه روښانه شی نوبیا به دوی ټول په یوه سر دوی ته بیعت ورکړی.

لکه څنګه چی دامریکی پخوانی ولسمشرجورج بوش دسپټامبردیوولسمی پیښی په لومړی غبرګون کی دصلیبی جګړی اعلان وکړ، چی همدا اصطلاح همدلته طالبان اونوری مزدوری اسلام نما ډلی هم پکاروی. ددوی لوړپوړی چارواکی اوسنی یرغل ته دیهودو اونصرانیانو(نصراوو) جګړه وایی؟ له یوی خوا دغربی هیوادونو په ښارونوکی داسلام دسپکاوی کاریکاتورونه خپریږی اوله بلی خوا دلته سلفی ډلی خلک سرکونو ته رابولی؟ لوبه روښانه ده، امپریالیزم خپلو ناروا اوکرغیړنو یرغلونو ته دمذهبی جګړی رنګ ورکوی؟(کټ مټ لکه په دواړو صلیبی جګړو چی وشولی چی موخه یی دعربی ځمکو لاندی کول و۱).

زمونږگران هیواد افغانستان چې لرغونی تاریخ لری اوپه تیروکی دتمدونونودهمغږی اوهمکاری ځای پاته شوی او دلته بودا،زردشت،برهمن په پیړیو، پیړیو سره ګډ ژوند کړی اویوبل یی دعقیدی په خاطرندی سره وژلی.

داسلام ددین نه مخکی یومعمارپه بغلان کی زردشتیانو(مجوسیانو) ته آتشکده جوړوی، بیا همداکس دری-څلورکاله وروسته په وردګوکی بت خانه جوړوی! ولی څوک یی نه وژنی، ولی که نن یومسلمان انجینر په بغلان کی جومات جوړکړی نوپه وردګو کی یی سر پری کیږی. داولی؟ زمونږپلرونوچی دځانګړوعقیدو خاوندان و، یوبل سره منل! اونن مونږپه یوه دین کی یوبل نه منو اودهمدی دین په نامه په ناحقه سره وژنو؟ داټولی هغه ستونزی اوفکری تفرقی دی چی نن سبا زمونږ تعلیم یافته قشر پری ګرفتاردی. له یوی خوا دامریکی اوغرب پرضدشعارونه ورکوی اوله بلی خوا دهمدی غربیانو له سخاوتمندیو؟؟؟ترټولوډیره ګټه پورته کوی.

داسلامی خلافت داعیه په عربوکی اوس راپورته شوه، ولی په افغانستان اومنځنی آسیا کی یی لاپخوا ریښی ځغلولی، حزب التحریر په افغانستان کی ترډیره په غیرپښتنوکی په چټکی پرمخ روان و اودکرزی په کنه اداره کی یی دحکومت لوړی څوکی هم ولکه کړی. همدارنګه همداګوند په تاجکستان اونورو دمنځنی آسیا هیوادونو کی ریښی لری.

انګریزانو دعثمانی امپراطوری دړنګولو لپاره دعربو په غوږوکی همداخبره ورکړه چی عجم خو دخلافت حق نلری اودا تاسوعرب یاست چی باید خلیفه ګان واوسی، همداوچی په لومړی نړواله جګړه کی عربودترکانوپرضدپاڅونونه وکړل اوترکان چی په اروپاکی له انګلیسانواومتحدینو سره په جګړه کی بوخت و، دعربو لخوادشاه په خنجرووهل شول، چی وروسته دوی نه یواځی خلیفه ګان نشول بلکه هریویی دیوه استعماری لیوه په خوله کی کښیوتل چی ترننه یی ژغ پراوړو وړی.

خلیفه ابوبکرالبغدادی القریشی الحسینی ته دغه القاب دانګلیسی زاړه خلافت دبیا احیاء لپاره ورکړل شوی، ګوندی داځل بیا صادق خراسانیان ددوی دپراختیا غوښتنی سرتیری شی، بخارا،ډیلی اواصفهان ورته فتحه کړی.

دسیمی دحالاتودپرمختګ څخه داسی څرک لګی چی همداډلګی به په راتلونکوکی دامریکی په هغه نیابتی جګړه کی برخه واخلی کومه به چی د روسانو دپرمختګ، دمخنیوی اودایران داسلامی جمهوریت دځپلو لپاره یی په پلان کی لری. دپاکستانی جنرالانو توده ناسته پاسته په کابل کی او داشرف غنی لخوا دسولی دراتګ دغږی داسی علامی اونښی دی چی ګواکی وزیرستان به دهندوکش شمال خواته ولیږدی اوله هماغه ځایه به دروسانو دګواښولو لپاره جګړه توده وساتی. دهمدی هڅوپه لړکی په دی وروستیوکی په شمالی ولایتونو کی دترهرګروشتون ډیرشوی، اوپه ځینوځاینوکی خو ولسی خلکو په سترګو لیدلی چی دناټواودولت لخوا هلته تروریستان استول کیږی اویاهم ددوی اکمالات کیږی.

که چیری ګلبدین اوملاعمرد ع اوغ له نظام سره ګډ شی نودنوی امپریالستی غوبل لپاره دملالی جویا په خبره شمیر اوجوړښت بشپړیږی اولیری به نه وی

چی بیابه ګلبدین پګړی په غاړه، دآمودسیند پرغاړه، له غبرګ عبدالله سره غاړه ترغاړه، وهی به دانګریززړه نغاړه!

په درنښت